ليکوال : سراج الحق ببرک زی ځدران ۲۰۰۸/۰۳/۲۱م

په افغانستان کې د ژبو سياست او ملي ترمينالوجي

۱. کلتوري جګړې

ژبې د تمدن اصلي منځ زړې جوړه وي، دغې منځ زړې ته د کلتور، فلسفې، د ژوندانه ډولونو او د دودنو ريښې ور نتلې دي . ژبه د ونو په شان وده نه کوي، ژبه د يو ماشين په شان هم نه چليږي . ژبه يو خورا اساس ټولنيز جوړښت دی چې په خپل سميز ځای کې ويښ ويونکی لړي او د تل لپاره په بدلونکي وي . ژبه ځواک دی، ژبه د واک چلولو يو توکي کيدای شي . ځوک چې پر ژبه باندې واکمن وي هغه پر خلکو واکمن وي. ځوک چې په يوه ژبه باندې تسلط نه لري اوهغه ژبه باندې په هيواد کې سياسي بحثونه کيږي، يا ځوک د يو هيواد په راکړه ورکړه ژبه باندې خبرې نشي کولی . هغه سړي ډيره لږه اغيزه پر دغو چارو باندې لري . د نړۍ په ډيرو هيوادنو کې ځو ژبې يو حقيقت دی . همدا اوس په نړۍ کې اټکل پر ۶۰۰۰ ژبو خبرې کيږي . له دی شميرې نه ډيرې ژبې دله منځه تلو په حال کې دي . دا حالت ژبپوهانو او فيلسوفانو ته اشاره کوي، چې د هرې يوې ژبې په له منځه تللو سره يو کتابتون سره د يو خاص ژبنې ټولنيز اند او فکر د نړۍ ځخه په مرګ محکوم کيږي .

ژبه په خپله ټوله را ځرګنده شوې بڼه کې د انساني کلتور يوه ژوندۍ نښه ده. خپله ژبه لرل د هر انسان يو منل شوې بنسټيزه حق دي . د خپلوي او يووالي احساسات په ټولنه کې رامينځ ته کوي . هر افغان پښتون چې دغه حق تر پښولاندې کوي، هغه زمور ملي کلتور، ملي تاريخ، د افغان هويت، زمور ملي ويارونه، زمور زور افغاني احساس، زمور پښتنې ټولنه، زمور دغه نوی اساسي قانون چې د لويې جرګې له خوا تصويب شوی تر پښو لاندې کوي .

دافغانستان داساسي قانون د شپارسمي مادې په يو بند کې داسې راغلي دي چې د هيواد ملي اصطلاحات خوندي دي . له دې کبله د ا طلاعاتو او کلتور وزارت دنده لري چې نه يوازې په دولتي رسنيو کې بلکې په نا دولتي ډليزه رسنيو کې هم دغه ټکي ته پام وکړي او هيڅا ته د دې ربښته يا حق ورنه کړي چې په ملي ترمينالوجي اصطلاحاتو چې د افغان ولس د ملي هويت يوه برخه جوړ وي،ملنډې ووهي . د ايران اخوندي فاشيستي رژيم کلتوري يرغل له دريولسيزو ځخه پيل شوي دی. څه موده مخکې د تاجکستان په دوشنبې ښار کې د دريو فارسي ژبو هيوادوپه نامه کنفرانس جوړ شو. ښاغلی کرزی د ايران او تاجکستان ولسمشران هم د ګډون لپاره راټول شويو وو. ډير ژر به په راتلونکي مياشت کې د دريوارو هيوادو بهرنيوچارو وزيران د فارسي ژبو هيوادو يوه اتحاديه او په فارسي ژبه يوه ټلويزيوني سيمېزه شبکه اعلان کړي . د کلتوري يرغل لپاره مخکې مخکې د فارسي ژبو هيوادو په غونډه کې پلان طرحه شوي وو. چې موخه يې پښتو ژبه ورو ورو دا فغانستان له سياسي او کلتوري ژوند او صحني ځخه وباسي او دغې لرغوني ژبې ته د پای ټکي کيږدي . په دې کنفرانس کې له دغې نامه لاندې د افغانستان ګډون د پښتوژبې د حقوقو له پاره دنده پام او نه ارزښت ورکولو له امله يو ستر خيانت او ناورين ګڼل کيږي .په سيمه کې به قومي ژبني او مذهبي بنسټپالني اختلافاتو ته لاره خلاصه کړي . دا ورستي پېښه په مزاري شريف کې د افغان ولس ملي ترمينالوجي پروړاندې د پرديپالو،بيلتونپالی ډلې تپلي او د ايران اخوندي رژيم له خواه يوه پلان شوي سياسي کلتوري کودتا وه . دا کودتا د ويښو افغانانو او پر ملي ارزښتونو مين ولس له خوا شنډ شوه. افغانان پوهيږي چې دا به نه لومړني او نه ورستي يرغل وي . ايرانی متعصبي دلي پوهيدلي دي چې په پښتوژبه کې د ويښو او پر ملي کلتورمينو افغانانو له خوا يو ملي کلتوري غورځنګ په خوازيدو راغلي دي . دوي خپل شوم پلانونه په خطر کې ويني . دغو نا حقوکلتوري ، ژبنيو حساسيتونو او دښمنيو اوس مور افغانان له بل هر مهاله د خپل ملي کلتور اوملي ژبې ساتنې ته اړ کړي يو او ورسره د هر هومانيست او بشر دوسته انسان دنده ده چې د تمدنو جګړو مخه ونيسی.

د ختيز ستر فيلسوف افغان سيد جمال الدين ليکي :

علم له نوروزده کړه خو فرهنګ او کلتور خپل وساته .

ستر عالم امانوويل کنت ليکي:

له دې نه بل هيڅ ستر تاوان يا خساره يو ملت ته نه اوړل کيږي ، کله چې سړي له دوی نه ملي کرکټر، خپل کړي ځانګړي روح او ژبه ځني واخلي .

په ۱۹۹۳ کال کې امريکايي نامتو عالم سمويل هينتونګ په فريګن افيرس مجله کې، د کلتورنو جګړې سرليک لاندې داسې ليکي. په نړۍ کې د راتلونکو کړکيچونو سرچينه په ايديالوژيکي او اقتصادي لاملونو کې نه بلکې په

افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

کلتوري برخو کي ولټول شي . هينتونګ زياته وي، چې په راتلونکي کي به اصلي کړکيچونه د ولسونو، ډلو ترمنځ د مختلفو تمدنو تر منځ پيدا کيږي . په ۱۹۹۶ کال کي هينتونګ په خپل بل کتاب کي پوښتنې کوي چې څنګه کلتوري جګړه پيل کيږي؟ ايا مور کولی شو، د تمدنونو کړکيچونه مخه ونيسو؟ ايا کوم بل الترنتيف د کلتوري جګړې په اړه شته؟ ځوابونه په همدی کتاب کي له يو شمير تيوريو او بيلګو سره د کلتورنو په اړه شته چې دلته د لوستونکو له حوصلي سره بهر وي .

يو بل المانې عالم هغلد مولر په خپل کتاب کي د کلتورنو ګد ژوند په نامه ليکي او د هينتونګ تيوري يوه ډيره اسانه او تير وتنه بولي. دي په المان کي بيا د هينتونګ له ځواکمنو ګوتنوونکي څخه ګڼل کيږي . په پای کي سړي دغی پايلي ته رسيږي چې د کلتور نو جګړه يا تکر هلته پيل کيږي کله چې مور هغه په ريښتا سره وګورو او يا يې احساس کړو. مور وينوپه هيواد کي کلتوري جګړې خپلې ريښې په غځولو کړي دي .

د بشر حقوقو دويمه ماده د ژبې سره تبعيض منع اعلان وي . له همدي امله يو ژبې او ګڼ توکميزه دولت بايد د ژبې سياست يا د ژبې پاليسی سمه وليکي، چې له دې سره د ډيرو ژبو حقوق، وده او غوښتنه په مناسب ډول سره تنظيم شي . په نړيواله کچه دغه کړکچه پر انګيزي ژبه باندي زور اچوي . د برتيش کونسل، د انګريز حکومت کلتوري اورګانيزيشن، د انګزيزي ژبې دومينانس يا برلاسي په نړۍ کي ډير ځله د واک او ځواک يو خورا لوي فکتور ګڼلي دي . دا حالت د برتيش اغيزه په نړۍ کي سره د انګريزي امپراتوري له منځه تلو سره بيا راژوندي کوي او تنظمينوي .

۲ . ترمينالوجي

ترمينالوجي د يوې مسلکي رشتې د مسلکي لغاتو خزاني ته ويل کيږي . ترمينالوجي يا د مسلکي لغاتو پوهنه . چيرته چې مسلکي پوهه کاريږي او ورکول کيږي ، هلته پوهنه پرته له ترمينالوجي ناشوني ده . له ترمينالوجي پرته مسلکي مالومات به هېڅ اعتبار ونه لري. د ژبې ترمينالوجي د ژبې پالنه او ساتنه ده،دغه چار ديره ګرانه اواکاډيميکه هم ده . ترمينالوجي بايد د ټولو علومو او رشتو له پاره جوړه شي او د ترمينالوجي ساتنه او پالنه هم خورا مهمه ده . دا په يوې ژبې پوري اړه نه لري دا د ټول ولس شريکه شتمني ده. دافغانستان ملي ترمينالوژي د ډيرو ژبو څخه په ګډه جوړه شوي، داملي مصطلحات يوازې په پښتو ژبه ندي بلکي د افغانستان ټولې ژبې پکي برخه لري. د افغانستان اساسي قانون د ملي ترمينالوجی ساتنه په اړه د اطلاعات او کلتور وزارت مکلف بولي . ملي ترمينالوجي په دی مانا نه ده چې له دې لارې د چا د مورنۍ ژبې مخنيوی وشي، دنويو ويونې يا لغاتونو، توري جوړول د هرې ژبې حق او اړتياده . ترمينالوجي د يو ولس يو ارزښت دی . نن سبا سړي داسي خبري اوري لکه چې ډير پوه خلک د اساسي قانون له مادوځخه خبر نه وي او يا نه غواړي چې اساسي قانون ومني ، د ملي ترمينالوجي له شتون څخه انکار کوي او ورسره ټولنيز ملي تړون ماتوي او په ټولنه کي کلتوري ګد ژوند، د ژبوکړکيچ رامنځته کوي، سوله ثبات له ګوابس سره مخامخ کوي .

الف . د المانی ژبې ترمينالوجي له پاره شورا

د المانی ژبې ترمينالوجي شورا ۲۵ کسه مسلکي متخصصين لري . دا کسان د اقتصاد، پوهنې، اداري او د المانې ژبې ترمينالوجي ښووني او روزنې سيمو څخه راټول شوی دي . دوی د ترمينالوجي پوښتنو، استعمال ،د ترمينالوجي زده کړې په برخه کي بوخت دي . دغه شورا د اروپا له نورو هيوادنو سره يوځاي په استراتيژيکي پوښتنوباندي کار کوي، په اروپايي کچه د المانې ژبې حالت يا پوزيشن باندي خبري اتري او بحثونه کوي . چې څنګه د المانې ژبې ترمينالوجي د اداري، حقوقي ترمينالوجي برسيره خپل نور ټوليدي صادرات، صنعتي، سوداګريزه توکي او نور ماشين الاتو نومونه په دې ننې نړيوالتوب کي، څنګه د انګريزي يوه اندازه ځواکمنې ژبې سره سيالي وکړي . بې له دي چې دوی د ناسونالستي اړخ ته ارزښت ورکړي، دوی وايي که همداسي په همدي کچه له پردي ژبې څخه نوي لغاتونه او توکي واخيستل شي، د المانې ژبې له منځه تلو ته په کتو سره دغه ژبه نوره به هم ورسته ولاړه شي . د المانی ژبې ترمينالوجي د انګريزي ژبې اغيزه پر المانې مسلکی ژبه باندي ځيري .

د اطلانتيک سمندر په دواړو غاړو کي نه يواځي موټر د سړکو په مختلفو غاړو "په ښي لاس او کين لاس " چليزي، بلکي انګريزان او امريکايان هر يو د خپلې ترمينالوجي ساتنه کوي . د همدي ترمينالوجي پربنسټ د انګلستان انګريزي ژبه او د امريکي انګريزي ژبې ترمنځ جوت توپير ليدل کيږي . ځوک چې په انګريزي پوهيږي هغه دا ترمينالوجي هم پيژني . که ځوک په قصدي توګه د هيواد ژبنې ملي ترمينالوجي له پامه غورځوي، هغه يوه مسلکي ځانګې له پامه غورځوي . ځکه د ترمينالوجي ځانګه د ژبو او ادبياتو په پوهنځي کي د يوې رښتې په حيث تدريس کيدای شي .

افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

د ګران افغانستان ګاونديو پاکستان او ايران د ځولسيزو راپه ديخوا زمور مادي او معنوي شتمني لوټ کړي دي . يو يي د پوځي سياسي او بل يي مذهبي، کلتوري سياسي يرغل هڅې کړي او کوي .
مور ټول پدې پوه يو چې خپل اصل پښتني او افغاني کلتور مو نن تر بل هر وخت زيات د بهرنيو کلتوري يرغلونو سره مخامخ دي، ځينې په کور دننه داسې کړي شته چې د بهرنيانو او په ځانګړي ډول له ګاونديانو سره پدې يرغل کې لاس په لاس دي او هڅه کوي چې زمور ملي ترمينالوجي په پردیو اصطلا حاتو بدله کړي . د ملي ترمينالوجي د له منځه وړلو سره دوی غواړي زمور پر فکر ،اند،ملي کلتوري ارزښتونه باندي هم يرغل وکړي . مور په دې هم پوهيږو چې د نورو ژبو اصطلاحات لکه انګليسي، عربي، ترکي کارول کيږي خوک د هغو پروړاندي څه نه وايي او د پښتو ژبې د ځو محدودو ټکو پسې راخيستي ده . زمور نيکمرغي دا ده چې ريښتيني افغانان د دا ډول ناوړه سلوک او د دغې ويروس پر وړاندي اوس ډير ښه واکسين شوې دي .
زمور افغان دري ژبي چې پښتو ژبه يي ډيره ښه زده ده، دوی اصلاً په خپل سر نه په دولتي چارو کې، نه په کابينه کې ،نه په ولسي او مشرانو جرګوکې،نه په راديو، ټلويزيون، اخبار او داسي نورو برخو کې په پښتو ژبه خبري نه کوي . په خوښي سره له هغو ځخه چې دخپل هيواد لومړي رسمي ژبه زده نه ده ګيله نه کيږي . **بناغلي يونس قانونی ښه پښتو ژبه زده ده او په خپل ولسمشري انتخاباتي کمپاين کې په کندهار کې خلکوته په دري ژبه خبري کولی او د دوی څخه يې په دري ژبه ځانه ته وټونه را ټولول . شريفو کندهاريانو به له تعصبه ورته غوږ نيولي وو. ايا معکوس يې په دري ژبو سيمو کې يو پښتون ته دا حالت شوني دي ؟**
د ژبو کړکيچ هلته رامنځ ته کيږي ، کله چې دوي خپلواکي مختلفي ژبي يو بل ته مخامخ شي، يوه ژبه د بلي ژبې په پرتله په سياسي ډګر کې سياسي حاکمه او بله سياسي محکومه شي، د ژبو کړکيچ رامنځ ته کوي په افغانستان کې خبره نوره هم ورانه ده، هغه دا چې پښتوژبه دلوی اکثريت ژبه د ځيني خلکو له خوا په ډير سپين سترګتوب سره دمحکوميت تاپه پر وهل کيږي ولي ځيني دري ژبې د پښتو ژبې له ويلو، ليکلوڅخه دډه کوي او په ډيرو برخو کې د پښتوژبې پروړاندي حساسيت او نفرت ليدل کيږي؟ خوک چې زما ژبې ته درنښت نه لري،هغه زما هويت ته هغه زما د ولس تاريخ ته هم درنښت نه لري .مورِ پښتنو دري ژبه په مينه زده ده او په خپله مورنۍ ژبه کې په سلګونو د دري ژبې لغاتونه به له کوم تبعيض او تعصبه استعمالو.دا ځکه چې مورِ په خپل کور کې دوی ته د يو افغان په ځير درنښت لرو او درنښت متقابل دی . ايا دي ته چا فکر کړي دي چې دغه حالت به ترڅو داسي روان وي او پښتانه په دې اړه څه فکر لري؟ مورِ پښتنو هيڅکله دا هڅه نه ده کړي چې دري ژبه د افغانستان له سياسي او کلتوري صحني ځخه وباسو.

ب. لومړي پوښتنه دا ده

چې ولې پښتانه سياسي چارواکي، د ولسي او مشرانو جرګې غړي او ځيني رون انديي ليکوال په خپله مورنۍ، رسمي ژبه له خپل ريږديدلي،کړيدلي او نالوستي ولس سره خبري نه کوي ؟ او يا ولې پښتانه په خپله نه يوازې په ورځينو خپلمنځي خبرواترو او يا د ويناوو کې ملي ترمينالوجي يا پښتو نومونه نه کاروي .
زما په اند ښايي چې دوی فکر کوي چې ملي يوالي له دي لارې ساتل کيږي . دوی اصلا دا فکر نه کوي چې دوی د هيواد ۶۰ څخه تر ۶۵ سلنې وګړو يا پښتانو ته اهميت نه ورکوي . دوی اصلا دا فکر نه کوي چې د اساسي قانون په تاريخ کې دا ژبه دافغانانو کله رسمي کله ملي ژبه ده،له دغې ژبې سره داسي چلند ولې وکړي . دوی اصلا دا فکر نه کوي چې دا دولتي، پوهنيزه رسمي ژبه ده. دوی اصلا فکر نه کوي چې دوی د خوږو يتيمانو، کوشنيانو، کوندو،سپين ږيرو او مشرانو حقوق باندي پښه ژدي . ښايي دوی فکرکوي چې پښتانه خو هسې په دي خبرو نه پوهيږي . دوی فکر کوي چې پښتانه خومې هسې خپل دي راځه چې دا نور خپل کړه. دوی فکر کوي چې که زه په پښتو خبري وکړم نو ساده او کليوالي به وبريښم . دوی فکرکوي چې زما شخصيت خوهسي تيت دی،نور به هم تيټ شي . ښايي دوی د کمتري احساس له مخې خپلې ژبه نه بلکې نورو ژبوته ارزښت ورکړي . دوی فکر کوي چې په پردي ژبه کې به ښه وليدل شو. دوی فکر کوي که په پښتو خبري وکړم نو فاشيست يا ناسيونااليست به را ته څوک و وايي . دوی اصلا دا فکر نه کوي چې دا بل ورور ته او د نړۍ ټولو دولتي چارواکو ته هيڅ څوک داسي ويلې نه شي. دوی فکر کوي چې پښتانه خو هسې تبعيض او تعصب نه لري . دوی فکر کوي چې دا څه خبره ده، دواړه دافغانستان ژبې دي چې په کومې باندي خبري کوم دا زما اختيار دی . دوی اصلا دا فکر نه کوي چې په شخصي ژوند کې خو نه يم دا د دولت رسمي دنده ده، په قران کريم، او قانون مې لوړه کړي ده چې دغې مظلوم ولس ته چوپړ کوم او حقوقو ته يې درناوي کوم . دوی اصلا دا فکر نه کوي چې د بي بي سي راديو پښتو خپرونې سره مجبور دي په پښتو وګړيزي ، خو د خپل خوارولس سره مجبور نه دي چې په پښتو وړغيږي . دوی دا فکر هم نه کوي چې د پردیو له خوا د دوی په مورنۍ ژبه ملنډې ووهل کيږي نه پوهيږي چې څه وکړي؟ . دوی فکر کوي

افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

چې ما خو ښوونځي په دري ژبه لوستي، ماخو ټول عمر په بلې ژبې خبري کړي دي . دوی فکر کوي چې پښتانه خو مې هسې غلط کړه راځه چې دانور هم غلط کړمه .
دوی اصلا دا سي فکر نه کوي چې دا زما د مور ژبه ده، دا زما حق دی دا په نړۍ کې یو منل شوي فورمول دي چې یو دولتي چارواکي مجبور دی په خپل هیواد کې پر خپله رسمي، دولتي او مورني ژبه خبري کوي . دوی اصلا دې ته پام نه کوي چې نړیواله ټولنه په کابل کې حضور لري دوی ته متوجهی دي چې پښتانه ځومره په خپل کلتوراو ژبه ولاړ خلک دي . دوی اصلا داسي فکر نه کوي چې دابل ورور په نره په خپل هیواد کې پر خپله مورني ژبه خبري کوي ،زه یې ولې نه شم کولې ؟ . دوی اصلا داسي فکر نه کوي که خبره د ملي وحدت ده . دغه دري ژبې ورورنه هم مجبور دي، یا زه بې په یو رنګ نه یورنګ نه دې ملي وحدت اړ کوم ، چې زما په رسمي ژبه هم زما ولس ته خبري وکړي، ما چې دستا درنه ژبه زده کړي ده ،ته څه خدا وهلي چې نوري ژبې لکه انګریزي زده کوي خو زما رسمي دولتي ژبه نه زده کوي او کلتوري ګډوند تمه هم لري . دوی دا فکر هم نه کوي چې د ولسي جرګې د فرهنګي کمیسیون مشر د هیواد په یوه رسمي ژبه نه پوهیږي او هغه دغې دندې ته ټاکي . دوی دا فکر هم نه کوي چې په هیواد کې دوی د یوه لوی اکثریت استازیتوب کوي . دوی اصلا دا فکر نه کوي چې ځینې دري ژبو خو پښتو ژبه زده ده ، خو خبري نه پر کوي، دا ځکه چې پښتانه په خپله خپلې پښتو ژبې ته درنښت نه لري، نوهغه بل ورور یې ولې ولري؟ دوی اصلا دا فکر نه کوي کله چې دوی په دولتي رسمي چارو کې په پښتو ژبه له خبرې کولو څخه ډده کوي، د غې نا قانوني عمل ناوړه اغیزې به څه وی؟ . دوی اصلا فکر نه کوي چې زه خو د نورستاني، پشه یي ،اوزبک، ترکمن، هندو او بلوڅي ورونو څخه دا جرعت او مینه اخلم چې په پښتو ژبه له پښتانو ورونو سره خبري وکړي ، دوی چې په مینه د هیواد ملي، رسمي پښتو ژبه زده کړي ده، ځنګه په دولتي چارو کې خبرې پر وکړي ؟. دا ورورنه فکر کوي چې پښتانه په خپله پښتو ژبې ته درنښت نه لري نو ولې د هیواد لومړي رسمي ژبه زده کړي. دوی دا فکر هم نه کوي چې ټولو پوهنتونو، ښوونځیو او اداري دفاترو تدریس ژبه په دري ده، دا زما دژبې حقوق څه شول ؟، دوی دا فکر هم نه کوي چې د دوی دا عمل د خلکو احساسات راپاروي او ملي یوالی خرابوي . دوی اصلا دا فکر نه کوي چې اطلاعاتو او کلتور وزیر ولې د اساسي قانون د پلي کولو په تور ولسي جرګې ته ور غوښتل کیږي؟ دوی اصلا دا فکر نه کوي چې دوي هم د پردیپالو سره یو ځای کلتور ي یرغل ته دروازې خلاصې کړي دي . دوی اصلا دا فکر نه کوي چې دا دوی هم دي په هیواد کې د ژبو کړکیچ کې ستره برخه اخلي .
زما په اند نن هره رون اندي افغانه، هر ویښ پښتون د هیواد په دننه او بهرکې د خپل پلارني هیواد د مورني ژبې او ملي کلتوري اتشي رول لوبه وي . که د ژبې سیاست حالات همداسي دوام وکړي، زمور درانه مشران ،واکمن ، استازي او پوهاند دغې ټکي یا بشري حق ته پام ونه کړي . ولس به خامخا ډیر شدید غبرګون دغې پښتانو واکمنو ته وښیي . ژبه یوه وسیله ده چې انسان وکړی شي خپل فکرونه، احساسات او اراده څرګند اوبیان کړي . افغانان اوس خپل حق او غوښتنه د ډلیزو رسنیو، سیمیناروونو او غوندو له لارې په سولیزه او ولسواکي ډول طرحه کوي . افغان ولس پر هغو ولسي استازوچې ځانونه د ولس ټیکداران، ټاکل شوي استازي، غړي ، واکمن او وکیلان بولي غږ کوي چې که دوی له ولس سره په خپله مورنۍ رسمي ژبې خبرې و نه کړي او د ولس رسمي او دولتي ژبې ته پاملرنه و نه کړي، دوی ته د ولسي جرګې د ټاکلو په لوبه کې سور کارت ورکول کیږي او له صحني څخه به وځي او یا د دوی ویناوی به نه اوریدل کیږي او داسي نور غبرګونونه . په ولسي جرګې او مشرانو جرګه کې باید چې د ولس په مورني رسمي ژبه د ولس په راتلونکي برخلیک، ملي هیلو او د ولس په حق خبرې وشي . کله چې حکومت ، مشرانو، ولسي جرګو غړي او استازي د ولس بنسټیزو حقوقو ته درناوی ونه کړي ، نو هغه استازي به دوی ته څنګه چوپړ وکړای شي ؟ او د خپل ربړیدلي په ژبه غوڅ ولس ډیرو نورو ملي ارزښتونو ته به هم پام ونه کړي. د پام وړ خبره دا ده چې ځینې افغان چارواکي په ولسي او مشرانو جرګوکې، ډلیزو رسنیو خبرونوکې، په کردي میزونو، لیدلور خپرونه کې، په ځینو نورو پروګرامونو کې لیدل کیږي چې په هره ژبه پوښتنه یا خبري ورسره کیږي، ځواب په پښتو ژبه ورکوي . دغه بیلګې د هیواد په ملي او اریانا تلویزیونو کې ښه لیدل کیږي . د کلتوري ګډ ژوند او په ټولنه کې د ژبنیو کړکیچ راکمولو ته یو لامل کیداي شي ورسره د افغانستان دوی رسمي ژبې یا بیلینګو والیتت ،، دوه ژبې توب،، ورښیي .
په هنرمندانو او سنرغاړو کې لکه ناشناس ، فرهاد دریا، احمد ولي ، وحید قاسمي ، طاهر شباب ، داود حنیف او داسي نور لږ یا ډیر د پښتو او دري ژبې اندول ساتي . دغه سندرغاړي به ولس کې ډیر مینوال او اوریدونکي لري . سړي حیران شي چې ښاغلي هر یومسکینیار، تیمورشاه حسن، د نوید ټلویزیون مسوول اورکزی ځانونه پوه افغانان او ژورنالستان ولس ته ورپیژني، څنګه سړي دوی ته دافغانستان د ژبو کړ کیچ د حاکمي او محکومي ژبې اندول

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

،د مورنۍ ژبې، ملي رسمي ژبې حقوق او ارزښتونه ور زده کړي ؟ ايا دوی فکر نه کوي، چې دری ژبې فکر کوي چې ته خپلې مورنۍ او رسمي ژبې حقوقو او ارزښتو نه نه پيژني او نه درناوي ورته لري، نو زمور د ژبې حقوقو او درنښت به تاسو څنګه وپيژني؟

د غه بدلون ژبني تبعيضونو، توپيرونو ته لمن وهل نه دي دغه زمور بنسټيز حق دی او له احساساتو څخه کار نه اخستل نه دي . زما کورني ، پلار، نيکه له نړدي سلو کالو څخه را په ديخوا په کابل کې هستوګنه لري . زما زوکړه ، زما زده کړه ، لوړه زده کړه په کابل کې ترسره شوي دي . مور په کابل کې د افغان درې ژبو سره ډيره ښه خپلوي او راکړه ور کړه درلوده او لرويي . زه په خپله ډير شريف، باعزته پوه، په هيواد، ملي وحدت، اسلاميت، افغانيت مين دری ژبي افغانان پيژنمه . زما ګيله له دری ژبو رون اندو ليکوالو څخه دا ده، چې ولې تر اوسه يوه ليکنه د پښتو ژبې د حقوقو د بيرته اعادهٔ په اړه ونه ليکله اويا د پښتنو څخه يې د ژبنيوحقوقو ملاتړ و نه کړو . ايا دوی په هيواد کې دغه ناوړه چلند د پښتوژبې په اړه نه ويني ؟ نوره مور پر خپلې مورنۍ ژبې حقوقو او ارزښت باندې سترګې نه شو پټولې .نوره مور د خپلې ژبې حق او امتياز بلې ژبې ته نه شو ورکولې . انشاالله په افغانستان کې به پښتو ژبه د ټول ولس په مرسته ډير ژر په خپله ټاکل شوي درنې کرسي کې کښيني .

۳ . وړاندیز

په نړيوال کلتوري بهير کې زمور افغاني مورني ژبه پښتو هم حق لري چې د خپلو اړتياوو د پوره کولو له پاره ځان په نړيوال ارنو ، کمپيوټري نړۍ او دژبو نړيوال فيستيوال او ماکيت کې وښيي او جوګه کړي . د افغانستان ملي، رسمي ژبواو ملي ترمينالوجي د ودي ، پياوړتيا ، پراختيا ، پالنې ، ساتنې او اغيزناکه پروګرامونه لپاره يوه علمي ملي کميټه رامنځ ته شي . تر څو ژر شونتيا ولري د کلتوري او ټولنيزو حقوقو په برخه کې عدالت پلي کړي . چې ورسره موخه يې د ژبنيو کړکيچونو مخه ونيول شي . د دولت ټول لوړ پوړي چارواکو ته له ولسمشره تر ولسکشره د ژبو اندول يو پروټوکول جوړ شي ، په دغه پروټوکول کې دملي، رسمي ژبو اندول او برخه وټاکل شي، چې کله دولتي چارواکي يا دحکومت دری ګونه اورګانو د حکومت د ژبو سياست څنګه مراعات کړي . چې کله دولتي چارواکي په کومه ژبه خپل ولس ته خبرې وکوي . ځکه د دولت ټول لوړ چارواکي په دواړو ملي او رسمي ژبو پوهيږي . د نړۍ په ټولو هيوادو کې سياسي اداري اصطلاحات واحد ډول لري چې د مسوولو چارواکو له خوا تعين او تثبيت کيږي . د اطلاعاتو او کلتور وزارت د علومو اکاډيمي، افغان پښتو اکاديمي ، پښتوټولنو،او داسي نور پوهنيزو سياسي څانګو سره په ګده ټول اداري، پوهنيزه، سياسي، حقوقي، پوځي، روغتيايي ،ښونيزه اصطلاحات را ټول کړي او رسماً په ډليزو رسنيو کې استعمال او خپاره کړل شي، تر څو ټول وګړي د ملي ترمينالوجي خپل قانوني پولي وپيژني . د ملي ترمينالوجي ساتلو ، کميت او کيفيت په برخه کې د پښتوژبې ژبپوهانو بيړنۍ راټوليدنه اړينه بولم . دوی بايد په پښتو ژبه کې له اړتيا سره نوي ريفورمونه او سمونونه رامنځ ته او پلي کړي . دولت او ولس وپوهول شي چې په دغه بدلونونو کې کوټلي قانوني ګامونه واخلي .

فخري افغان پاچا خان ليکي .

چې کوم قام ته خپله ژبه سپکه شي، نوهغه سپک شي، خپله ژبه تري ورکه شي ، نوورک شي .

د افغانانو د کلتوري، ژبني سوليز ويښ ګډ ژوند او ملي يوالي په لور

پای

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de